مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لړم دویمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲٤مه | دویم کال| ۲۷۳مه گڼه

## ولسمشر غني: پاکستان دې د جنرال رازق قاتلین افغانستان ته وسپاري



۳

د سولې په هڅو کې د دولت د ونډې په تړاو اندیښنې
۲ مخ

د ولسي جرگې ټاکنې، تېروتنې، ستونزې او درسونه
۲ مخ

د ژوندانه په لگښتونو کې د سیما لارې چارې
۵ مخ

## حکمت خلیل کرزی: په بهرنیو چارو وزارت کې سلیقوي گومارنو د بهرني سیاست دستگاه کمزورې کړې

د بهرنیو چارو وزارت پخواني سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي ویلي چې سفیران او د بهرنیو چارو وزارت نور ډیپلوماټان د سیاسي او شخصي معاملو پر بنسټ گومارل کېږي.

کرزي پرون له بهرنیو چارو وزارته د مخه ښې مراسمو ته د وینا پر مهال وویل چې له بده مرغه په هېواد کې د ټاکنو او یا نورو سیاسي معاملو پر مهال د بهرنیو چارو وزارت پر څوکیو معاملې کېږي.

د ده په خبره له همدې امله په بهرنیو چارو وزارت پورې اړوندو بنسټونو ته زورواکي، سیاسي څېرې او غیر مسلکي کسان لېږل کېږي. د ده په وینا دې کار د هېواد د بهرني سیاست دستگاه کمزورې کړې او په بهرنیو چارو وزارت کې یې له وړ او مسلکي ډیپلوماټانو د کار چانس اخیستی دی.

هغه پر حکومت غږ وکړ چې د خپلو سیاسي معاملو لپاره دې خپل کسان پر دغو څوکیو نه گوماري، بلکې د بهرنیو چارو وزارت له داخلي ظرفیته دې گټه پورته کړای شي.

د کرزي په خبره، د بهرنیو چارو وزارت د هېواد راتلونکې او د بهرني سیاست د توازن ساتلو لپاره تر ټولو مهمه مرجع ده او په وینا یې، په دې برخه کې گڼې لاس ته راوړنې لري.

هغه وایي په دې وروستیو کې د دغه وزارت ظرفیت خورا لوړ شوی دی.

حکمت خلیل کرزی د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال و چې تېره اونۍ یې له دندې استعفا ورکړه. هغه د خپلې استعفا لاملونه په حکومت کې سیاسي ناندرۍ بللې وې.


## د ځینو حوزو رایې به باطلې اعلان شي




۳ مخ

کتاب
۴ مخ

## You Can ACHIEVE MORE




د نومورې لیکوال لومړنی اثر «ته گټونکی یې» هغه کتاب و چې د مثبت فکر، خوشاله ژوند او فردي بریالیتوب په اړه بحث یې د میلیونونو لوستونکو پاملرنه را خپله کړه.

## نړیوال بانک له افغانستان سره د ۳۰۰ میلیونه ډالرو مرستې اعلان کړې




نړیوال بانک له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د ۳۰۰ میلیونه ډالرو مرستې اعلان کړې دی.

د دغه بانک چارواکو ویلي چې د دې مرستې ستره برخه به د پوهنې، د ښځو د اقتصادي او سوداگریزو مهارتونو د لوړولو او د لوړو زده کړو د کیفیت د لا ښه کولو لپاره ولگول شي.

د پوهنې وزارت سرپرست میرویس بلخي په دې اړه جوړ شوي کنفرانس ته په وینا کې د نړیوال بانک له دې مرستې مننه کړې ده. نومړي ویلي، هڅه به وکړي چې له دې مرستو په اړینو برخو کې گټه پورته شي. نومړي ویلي چې د هېواد د پوهنې سکتور لا هم ډېرو مرستو ته اړتیا لري او په وینا یې تیار دی چې نړیوالو او ملي بنسټونو ته د مرستو او مالي لگښتونو په اړه شفاف راپوورونه وړاندې کړي.

بلخي ویلي، شفافیت ته ژمن دی او په دغه وزارت کې یې پراخ اصلاحات رامنځته کړي دي.

## سرور دانش: انتخابات پارلمانی با مشکلات و تخطی های زیاد همراه بود




سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری برگزاری انتخابات پارلمانی در کشور را نمایش قدرت مردم دانست، اما تاکید کرد که این انتخابات با «مشکلات و تخطی‌های زیاد» همراه بود.

معاون دوم ریاست جمهوری صبح دیروز با اشاره به وجود مشکلات زیاد در انتخابات پارلمانی، از کمیسیون‌های انتخاباتی خواست تا از ارای مردم محافظت کرده و به شکایت‌ها و تخلفات صورت گرفته رسیدگی نمایند.

معاون دوم رییس‌جمهور، از حضور پرشور مردم و به ویژه زنان در پای صندوق‌های رای تقدیر نمود اما گفت: «همه می‌دانیم که در جریان انتخابات، مشکلات زیادی بروز کرد و تخلفات زیادی هم صورت گرفت.»

او افزود که احزاب سیاسی، نهادهای مدنی، ناظران و نامزدان انتخاباتی شکایات خود را «به صورت اصولی» به مراجع مربوطه بسپارند تا مورد رسیدگی قرار گیرند. سرور دانش گفت که مردم با وجود همه چالش‌ها و تهدیدهای امنیتی به پای صندوق‌های رای رفتند تا ثبات کشور را تضمین کنند.

انتخابات پارلمانی در افغانستان در روزهای ۲۸ و ۲۹ میزان برگزار شد اما انتقادهای گسترده‌ای نسبت به ضعف در مدیریت کمیسیون مستقل انتخابات از سوی مردم و شماری از مقامات مطرح شد.

کمیسیون رسیدگی به شکایات هم وجود تخلفات را تائید کرده و گفته است در حال رسیدگی به شکایاتی است که به این کمیسیون رسیده و شماری از آنها هم «شکایات جدی» هستند که ممکن است نتایج برخی از حوزه‌های رای دهی را باطل نماید.

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
If You Can Think It, We Can ink it,
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696 | +93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

دریــځ

## د سولې په هڅو کې د دولت د ونډې په تړاو اندېښنې

امریکا د خپل تاریخ د تر ټولو اوږدې جګړې (افغان جګړې) د سوله ییز حل لپاره هڅې ګړندۍ کړې دي. د همدې هڅو په لړ کې یې د لومړي ځل لپاره د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان د سولې د خبرو لپاره ځانګړی استازی ټاکلی دی. سره له دې چې تر دې وړاندې هم د سولې خبرو ته د دولت د تر ټولو سترې مخالفې وسله والې ډلې، طالبانو د کېنولو هڅې شوې، خو په دې کچه نه وې.

دا هڅې هیله بښوونکې دي، خو د قضیې د یوه عمده اړخ په توګه له دې خبرو د افغان دولت د باندې پاتې کېدل، دا هڅې د تېر په څېر له ناکامۍ سره مخ کولی شي. افغان دولت له شک پرته په سمه بڼه د خپلو خلکو د سر او مال په ساتنه کې پاتې راغلی، خو په بشپړ ډول له پامه غورځول یې په هېڅ صورت د منلو نه دي، ځکه له ټولو نیمګړتیاوو سره سره د ولس په رایو راغلی او د کړکېچ یوازینی اړخ دی چې ولس ته ځواب ویونکی دی. د جګړې دوه نور اړخونه طالبان او امریکا په هېڅ صورت نه دي چمتو چې د خپلو کړنو په اړه خلکو ته ځواب ورکړي.

په دې وروستیو کې ځینې داسې راپورونه خپاره شول چې ګڼې افغان حکومت په هغه اندازه چې اړتیا ده، د سولې په تازه هڅو کې ښکېل نه دی یا دا چې په دې تړاو د دولت او امریکا ترمنځ ځینې مخالفتونه شته. که څه هم افغان دولت دا ګنګوسې رد کړې، خو د سولې په برخه کې تېرو تجربو ته په کتو یوازې ردېدل دا اندېښنې له منځه نه شي وړلی.

څومره ډېر چې افغان دولت د سولې له خبرو لرې ساتل کېږي، په هماغه اندازه د احتمالي مذاکراتو د پایلو د منلو فرصت کمېږي. امریکایان باید دا موضوع درک کړي او هڅه وکړي چې ژر طالبانو ته قناعت ورکړي څو د افغان استازو له ګډون سره موافقه وکړي. پر امریکایانو سربېره افغان دولت ته هم په کار ده چې لاس تر زنې کښې نه ني. دولت دې د سولې د خبرو برخلیک په بشپړ ډول امریکا او پاکستان ته نه پرېږدي. په دې کې شک نه شته چې د امریکا او پاکستان له ګډون پرته د مذاکراتو د بریا فرصت نه شته، خو دا هېڅکله د دې معنا نه لري چې هغوی دې د افغانانو برخلیک وټاکي. د سولې لپاره د امریکا او پاکستان په ګډون د هر بهرني لوري هڅې باید د بین الافغاني مذاکراتو ملاتړې وي، موازي نه. د سولې مذاکرات په افغانستان کې د سولې لپاره کېږي؛ که د دغه هېواد دولت له دې مذاکراتو په بشپړ ډول د باندې پاتې کېږي، خپل مفهوم له لاسه ورکوي. څومره چې ژر کېدای شي، د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې باید د افغان دولت او طالب استازو ترمنځ مخامخ ناستو او پر جنجالي موضوعاتو بحثونو ته لاره هواره کړي. که داسې ونه شي، اوسنۍ هڅې هم نړدې دوي لسیزې اوږدې جګړې ته د پای ټکی نه شي ایښودلی.

# د ولسي جرګې ټاکنې، تېروتنې، ستونزې او درسونه

لیکنه: محمد عارف رسولي

**د ټولټاکنو لپاره بستر او شرایط**

شفافې او رښې ټولټاکنې که د جمهوري ریاست او که د پارلمان لپاره وي، د یوه غوره عادلانه نظام د رامنځته کېدو او ټینګښت لپاره اړین او مهم شرط دی. له دې سره باید پروژه یي چلند ونه شي، بلکې دا یوه سیاسي، مدني او ټولنیزه ملي پروسه ده او یوازې د کمپاین په څو اونیو او ورځو کې په رایه غوښتلو او د ټاکنو په ورځ پر رایه ورکولو باندې نه خلاصه کېږي.

دا پروسه هغه وخت بریالۍ کېږي چې په ټول ملت کې د سیاسي، مدني او ټولنیز شعور د لوړېدا، د ښې حکومتولۍ، په ټولو خلکو بې له تبعیضه د قانون یو شان پلي کولو او له درغلۍ، فساد، زورواکۍ، قوم پرستۍ او درواغ ویلو سره د رښتینې مبارزې کلتور عام شي. دا فرهنګ هلته رامنځته کېدای شي چې خلک او په تېره لوستی قشر تجربه او یقین تر لاسه کړي چې نورې باطلې او ناروا کړنلارې د ټول ملت په تاوان او په حقیقت کې د هېڅ چا په ګټه نه دي، یوازې همدا فرهنګ یوه ملت ته واک، ځواک او رښتینې خپلواکې ورکولای شي. څو چې موږ افغانانو دا کار نه وي کړی د رښو او پاکو ټاکنو تمه لرل یوازې د ځان تېر ایستل دي.

هغه ملتونه چې په اسانۍ سره د رښو ټاکنو له لارې د قدرت لېږد کوي، همدا اوږده او سترې کوونکې پروسه یې د لسیزو او ان پېړیو په ترځ کې ترسره کړې ده، خو که تاسو وګورئ هغو ملتونو چې تر اوسه یې دا کار نه دی کړی، د واک او ځواک خاوندان نه، بلکې نورو ته محتاج دي او که د تېلو یا نورو زېرمو له کبله هرڅومره شتمن ملت هم وي، خو نن یا سبا به ورته اړ کېږي.

**د افغانستان د ټاکنو په پروسه کې ننګونې**

زموږ په هېڅ قشر کې که هغه د ټاکنو کارکوونکي او ناظرین دي، که سیاستوال دي، دولتي چارواکي دي او که امنیتي کسان چې د ټاکنو په ځایونو کې زیات رول لري او که خپله نوماندان او پلویان یې او یا هم عام خلک دي، په پورته فرهنګ زیات باور نه لري، له نظم او ډسیپلین سره دښمن دي، په هر ځای او هر څه کې واسطه او وسیله کوي، له زغم او حوصلې کار نه اخلي او د نورو حقونو ته درناوی زموږ په کلتور کې خورا کمزوری دی. تل غواړو چې چالاکي وکړو او د نورو په حق خېټه واچوو، له قانونه سرغړونه راته هوښیاري ښکاري او د ځان حق یې بولو.

په ټاکنو کې د روڼوالي، حساب ورکولو، عامه او مدني نظارت او پورته یا د فرهنګ رامنځته او بډایه کول زیاتو اوږدو، سترې کوونکو، علمي، ټولنیزو او فرهنګي هڅو، پلانونو او کار ته اړتیا لري. د ملت ټول قشرونه باید د دغه فرهنګ په عاملو کې خپل مسوولیت ادا کړي، له تعلیمي نصابه نیولې، تر ټولګي، ښوونځي، پوهنتون، منبره، رسنیو، لیکنو، وېبپاڼو، ګردیو مېزونو، مدني، هنري، سیاسي او حزبي غونډو او نورو ټولو کې دا مسئله په کلک هوډ په نظر کې ونیسو. اړتیا ده چې له دې ټولو او نورو ممکنه لارو د خپلو خلکو د سیاسي شعور لوړولو، له فساد سره د کرکې او ښې حکومتولۍ د اړتیا په هکله عامه پوهاوی، او ملي اراده رامنځته، تقویه او له تېرو تېروتنو زده کړه وکړو.

**د سیاسي ګوندونو مسوولیت**

د راز راز تاریخي، ټولنیزو او سیاسي لاملونو، اوږدو شخړو او نورو لاملونو له کبله زموږ په ملک کې د سیاست د علم په بنسټ د ګوندي مشارکتي فعالیتونو تجربه کمه او په نشت حساب ده. زموږ ګوندونه سیاسي مبارزو، سیاسي سیالیو او فعالیت ته یوازې له رقیبو ډلو سره د نانديريو او يو بل ملامتولو، د خپل بام واورې په نورو اچولو، د ګاونډیو او نړیوالو قوتونو په ملامتولو کې ګوري. دوی د خپلو خلکو په رښتینې ویښتیا او همغږي کولو کې په هېڅ هم نه پوهېږي.

له همدې کبله، زموږ په هېواد کې د مدونو علمي او د عوامو د مشارکت په بنا د پالیسیو او پلان کولو لرونکي سیاسي حزبونه نشته، شته ګوندونه د لرلیدونو او موخو ټاکلو او پلان کولو پروسه نه پېژني او نه ورباندې باور لري، خو حقیقت دا دی چې څو سیاسي ګوندونه د پورته فرهنګ د رامنځته کېدو لپاره اړینه پوهه او اراده تر لاسه نه کړي، د مدونو پالیسیو او د پلان کولو په علمي او سیاسي پروسه باورمند نه شي، د پورته فرهنګ د رامنځته کېدو لپاره اړتیا احساس نه کړي، د رامنځته کېدو مسوولیت یې په غاړه وانه خلي او د سیاسي علومو په چوکاټ کې ورباندې کلک عمل ونه کړي، د رښتینو اصلاحاتو او پورته فرهنګ د رغولو امکان ډېر کم ښکاري.

خو داسې هم نه ده چې تل تر تله به هر څه همداسې وي. دا قانون دی چېرې چې تشه وي، خامخا به ډکېږي. اټکل کېږي چې دا تشه به ژر د یو شمېر نخبه رښتینو سیاستوالو له خوا درک شي، یا به پخوا درک شوې وي او ډکولو ته به یې کېدای شي ځینې زاړه او یا نوي ګوندونه له نوي سوچ سره میدان ته راووځي او دا تشه به ډکه کړي.

**د دولت مسوولیت**

د دولت دنده ده چې د ټاکنو لپاره ښه قانون او مقررات چې په نوره نړۍ کې په ورته شرایطو کې بریالي شوي وي، له خپلو شرایطو سره سم برابر او رامنځته کړي او په رښتینولۍ او کلک هوډ یې پلي کړي. د ټاکنو او د ټاکنو د کمېسیونونو لپاره په یوه شفافه پروسه کې د وړتیا له مخې داسې پېژندل شوې رښتینې ملي څېرې غوره کړي چې هم وړتیا ولري او هم خپل نوم او حیثیت ورباندې ګران وي، ټول عمر پاک چلېدلي وي، په ملي یووالي باورمند وي، له فساده کرکه ولري او د خپل ملت او ځان خیر په رښو ټاکنو کې ګوري، له قومي، ژبنیو او ګوندي تعصبونو کرکه کوي او د خپل هېواد په زیان یې بولي.

د ټاکنو د کمېسیونونو د کارکوونکو او مسوولینو لپاره تر معمولي کچې باید زیات امکانات وټاکل شي او د دندو خوندیتوب یې هم باید تضمین شي، ژر ژر بېله موجبه لاملونو له دندې ګوښه نه شي، ټول اړین امکانات او وسایل په اختیار کې ورکړل شي، تل یې امنیت خوندي شي او هو! په اړوندو قوانینو او مقرراتو کې هم د خیانت، درغلیو او رشوت د ثبوت او ناغېړۍ په صورت کې تر ټولو سخته سزا په نظر کې ورته ونیول شي. دا به له یوې خوا تر ډېرې کچې دوی په خپله دنده ډاډه کړي او له درغلیو به یې هم راوګرځوي

او له بلې خوا به دا مسوولین د ټاکنو په اړوندو مسئلو کې ښې تجربې ترلاسه کړي، د مدیریتي او تخنیکي کمښتونو مخه به هم ونیول شي. دوی ته به روښانه شي که درغلي ورباندې ثابتېږي، نو د محاکمې تر ځنګ به په تور لېست کې راځي او هېڅ دولتي پست به نه ورکول کېږي.

همدارنګه، د دولت د مشرانو دنده او مسوولیت هم دا دی چې د قانون په پلي کولو کې سیاسي ټینګه اراده له ځانه وښيي، د قانون په وړاندې معافیت ختم او قانون ماتوونکو ته سخته سزا ورکړي او هېڅ ډول مصلحت په پام کې و نه نیسي.

**د ټاکنو پروسه څنګه رغولای شو؟**

څو چې د پورته یادو ننګونو سمه غمه په هوښیارۍ او کلک هوډ ونه خورو، په ټاکنو او یا هره بله ملي پروسه کې درغلي نشو کابو کولای. لکه څنګه چې مو مخکې وویل، څو چې ټول فرهنګ او ټول ملت د درغلیو په وړاندې پوره حساس نه شي، د مخنیوي پوهه، د مسوولیت احساس او کلک هوډ پکې پیدا نشي، دې درغلۍ له منځه تلل به ممکن نه وي. هغه وخت به درغلي له منځه ځي چې د ټاکنو پروسه د قانون د پلي کولو، شفافیت، حساب ورکولو او وطندوستو کاندیدانو ته د رایو ورکولو په یوه ملي نهاد بدل شي او د خلکو په عادتونو مثبته اغېزه وکړي. بیا به خلک د رایو ورکولو په مرکز کې د درغلۍ نښې نه زغمي، په ګډه او په مدني او علمي لارو چارو به یې مخه نیسي. د دې لپاره به اړتیا وي چې بې پرې رسنۍ، شخصیتونه، ژورنالستان، شنونکي او لیکوالان، فکري مرکزونه او نور په بې پرې توګه خلکو ته عامه پوهاوی رامنځته کړي او دخلکو ذهنیتونه روښانه کړي.

خو دلته ګورو چې د قانون پلي کول په ټولو خلکو یو شان، قانون ته د خلکو غاړه اېښودل، قانون منل په یوه فرهنګ بدلول بیا هم مرکزي رول او ځای لري. په دې کې اړتیا ده چې داسې روڼ اندي، پاک سیاستوال او ملي مشران رامنځته شي چې هم د قانون په پلي کولو باور ولري، په اهمیت یې پوه او هم یې پر ځان پلي کول نورو خلکو ته یوه نمونه او مثال شي.

**د ولسي جرګې د اوسنیو ټاکنو درسونه**

د بدلون او اصلاح لپاره د ټول ملت قوي اراده، تر یوې کچې لوړ سیاسي شعور او هم د مسوولیت احساس ثابت شول. په دې کې به کمښتونه وو، خو له پامه غورځول به یې ستره تېروتنه وي او هم لا نورې زیاتې پانګونې او لا نور زیات کار ته اړتیا لرو، څو هغه پورته غوره فرهنګ ته ورسېږو.

بله ښه خبره دا وه چې ستونزې تخنیکي وې. زه فکر کوم په لوی لاس د درغلیو او لاسوهنو ستونزه به وه، خو ډېره زیاته هم نه وه. د راتلونکو ټاکنو د تیارۍ لپاره اړتیا ده چې د یوه منظم پلان له مخې دا تخنیکي ستونزې حل او اړوندو کسانو ته پوره ترېننګ ورکړل شي، ټولې وسیلې ورته تکمیل او په اختیار کې ورکړل شي.

د بایو مېټریک څخه کار اخیستنه یوه نوې تخنیکي مسئله وه، زیات مسوولین ورسره بلد نه وو، ځینو یې ښه او یا بېخي کار نه کاوه، که به یوه اله خرابه شوه. بله پالتو نه وه چې ورنه کار واخلي. د دې باید علمي ارزونه وشي، کمښتونه په ګوته او حللارې ورته ولټول شي او ډاډ ترلاسه شي.

سږ کال په ټاکنو کې بیا هم د سرزوره زورواکانو له خوا هم په ځینو سیمو کې تهدیدونه، د رایو ورکوونکو برمته کول، له ډلو سره یوځای د رایو مرکزونو ته ورتلل او په خپله خوښه په خلکو ځانته رایې ورکول یوه ستونزه وه. دولت وایي چې څو تنه دا زورواکان یې نیولي هم دي. ښکاره ده چې دولت باید دا زورواکان کابو کړي او قانون ورباندې پلی کړي.

د رایې ورکولو په زیاتو مرکزونو کې ګڼه ګوڼه ډېره وه، خو د رایې ورکړې ځایونه کم او خورا محدود وو، ما په دویمه ورځ ولیدل چې په ۱۱ بجو کوم مسوول خلکو ته وویل، دا دی بل د رایو ورکولو ځای مو هم پرانیست. په دې معنی چې د لېست په بنسټ د خلکو د شمېر سره سم کوم پلان نه و.

په لېستونو کې د نمونو پیدا کول هم یوه ستونزه وه او زیات وخت یې غوښت او زیاتو هغو کسانو چې په کوم مرکز کې یې په تذکره سټېکر لګولی و، نوم یې د هغه مرکز په لېست کې نه و. که کمپیوټر وای، نو دا کار به خورا اسانه و.

زموږ په ټولنه کې د سیاسي پروسو لکه نظم مراعاتول، په لین کې درېدل، له صبر او زغم څخه کار اخیستل یوه ستره کمزورتیا ده او په دې ټاکنو کې خورا ستره ستونزه وه. له دې باید زده کړه وشي، درسونه ورنه استخراج شي، په ښوونځیو، پوهنتونو، په منبر، په رسنیو او نورو کې د شنونکو او لیکوالانو په مرسته دا کمښت لرې شي. په راتلونکو ټاکنو کې د دې ستونزو د لرې کولو لپاره باید پوره تیاری ونیول شي او اړین نظم او ډیسیپلین رامنځته او مراعات شي.

په ټولنه کې د شفافیت غوښتنه او ورباندې د نظارت فرهنګ تر اوسه نه دی رامنځته او ټینګ شوی. دا کلتوري او فرهنګي مسئله ده، زر نه سمېږي، خو د ټول ملت مسوولیت دی چې باید سم یې کړو. ناظرانو ته باید سم ترېنېنګ ورکړل شي، څو خپله دنده سمه درک او اجرا کړي. که څه هم رسنیو د نظارت په برخه کې ښه کار وکړ، زیاتې ننګونې یې رابرسېره او له ملت سره شریکې کړې او دا رول باید نور هم تقویه شي.

زموږ په ټولنه او ملت کې په ورته پروسو لکه ټاکنو کې د وړاندوینې او ورته د پلان کولو هنر او کلتور تر اوسه زیات کمزوری دی، د مثال په توګه، کمېسیون باید مجرب ترېنران استخدام کړي وای، د عادي چک لېست په مرسته یې له ټیمونو سره مرسته کولای شوای چې د ټاکنو په ورځ به څه کوي، څه به له ځانه سره وړي، کومو قدمونو او شیزونو ته به اړتیا لري، نو د یوه ځای لېست به بل ځای ته نه استول کېدا.

په نوره نړۍ کې کله چې غواړي خلک په یوه عادي پروسه کې عادت کړي، د مثال په توګه، په خارجي موسسو کې د خطر په وخت خپل کارکوونکي په بېړه مصئون ځای لکه کومې تهکوۍ ته رهنمایي کړي، نو د دې لپاره چې خلک بلد شي او په بېړني حالت کې تېروتنه ونه کړي، په میاشت کې یو ځل ورباندې تمرین کوي او کله چې د دفتر کسان زنګ واوري، ژر باید ځان خوندي ځای ته رسوي. زموږ د کمېسیون کارکوونکو ته هم باید همداسې ترېنېنګ ورکړل شي. په بل عبارت به په عملي توګه هر ټیم ته تمرین ورکړي چې کومې وسیلې ورته په کار دي، څنګه به دا وسیلې په کار اچوي، که له کاره لوېږي بیا به څه کوي، نظم په څنګه راولي .... او نور.

زموږ بله ستونزه دا ده چې د سیاسي نانديريو له کبله په کمېسیون کې پخواني او تجربه لرونکي کسان نشو ساتلی، په هر ځل ټاکنو کې له سره عرابه (ویل) اختراع کوو او پخوانۍ تجربې له لاسه ورکوو. دا ځل د دولتي مشران خدای ته وګوري او د کمېسیونونو اوسني چارواکي د نه بدلوي، خو روښانه دې د ټول ملت په حضور کې ورته ووایي چې که غدر یې وکړ څه به ورسره کېږي.

ښکاره شوه چې په کمېسیون کې لکه زموږ په نورو ادارو کې، د وړتیا له مخې کسان نه وو ګومارل شوي او هم ورته کافي ترېنېنګ نه وو ورکړل شوی. داسې کسان د سایټونو مسوولین نه وو چې د مدیریت او رهبرۍ حد اقل مهارتونه ولري. په راتلونکي کې دېته باید پاملرنه وشي، د کارمندانو په ګومارلو او ترېننګ کې باید زیاته پاملرنه وشي.

هیله ده چې پر دې مسئلو باندې نورې څېړنې، لیکنې او روښانتیاوې رامنځته شي، ملت، دولت او د ټاکنو کمېسیونونه ورنه زده کړه وکړي او په راتلونکي کې سمون راشي.

د داسې ورځې په هیله چې د ټاکنو پروسه مو په ټوله نړۍ کې لومړۍ درجه وي.

# ولسمشر غني: پاکستان دې د جنرال رازق قاتلین افغانستان ته وسپاري



ولسمشر غني له پاکستانه وغوښتل چې د کندهار د وروستۍ پېښې عاملین افغانستان ته وسپاري.

ولسمشر محمد اشرف غني د کندهار په منډیګک ماڼۍ کې د قومي مشرانو او ولسي خلکو یوې لویې غونډې ته په وینا کې له پاکستانه وغوښتل چې د کندهار د وروستي برید عاملین دې ونیسي او افغانستان ته یې دې وسپاري.

غني زیاته کړه: «پاکستان ته وایم، توطیه په پاکستان کې جوړه شوې، مجرمین راکړئ چې موږ یې محاکمه کړو، هر رنګه بین المللي هیئت چې منی را دې شي چې څېړنه وکړي چې موږ په حق یو که نور په حق دي.»

ولسمشر دغه غوښتنه وروسته تر هغه کوي چې ورمه ورځ د ملي امنیت لوی رییس محمد معصوم ستانکزي په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې د کندهار د پېښې پلان د پولې ها غاړه جوړ شوی و.

په ورته مهال د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل ویلي چې د کندهار ترهګریز برید په کوټه شورا کې طراحي شوی و او بریدګر د پاکستاني استخباراتي ادارې تر نظارت لاندې د ځانمرګو په یوه روزنځای کې روزل شوی و.

هغه وویل، د جنرال رازق د وژل کېدو قضیه ډېر پټ اړخونه لري چې باید روښانه کړای شي.

نوموړي ټینګار کړی چې د قضیې په اړه د کندهار والي زلمی ویسا هم باید تر پوښتنو ګروېږنو لاندې ونیول شي او پخپله شاوخوا کې د یوه ساتونکي د ګومارلو د څرنګوالي سپیناوی دې وکړي.

ولسمشر غني کندهار ته د سفر پر مهال د کندهار د امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق له کورنۍ سره د غمرازۍ تر څنګ نوموړي ته د خپلواکۍ د ملي اتل لقب ورکړ او د دغه ولایت د پولیسو اکاډمي یې د قوماندان رازق په نوم کړه.

غني کندهار ته له رسېدو سره سم په خرقه مطهره کې د دغه ولایت د وژل شوي امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق مزار ته ولاړ او هغه ته یې دعا وکړه.

ولسمشر دغه راز د قوماندان رازق د مزار د جوړېدو او په کابل او کندهار کې یې د نوموړي په نوم د یو شمېر واټونو د نومولو سپارښتنه هم وکړه.

نوموړي له قومي مشرانو سره په خبرو کې وویل چې د کندهار د خلکو غوښتنې او مشورې مني او له دې وروسته د کندهار د خلکو خبره او مشوره د حکومت تګلاره ده او منل کېږي به: «په کابل او کندهار کې به سړکونه د دغه ملي اتل په نوم یادېږي او دا کار به ژر کېږي. د کابل ښاروالۍ او د کندهار ښاروالۍ ته مې هدایت دا دی چې ژر تر ژره دا کار وکړي، د کندهار د پولیسو تعلیمي مرکز به سر له ننه د شهید ستر جنرال عبدالرازق په نوم ونومول شي، د خپلواکۍ د اتل شهید لقب به ستر جنرال عبدالرازق خان ته ورکړو او ستاسي مشوره به زما تګلاره وي.»

پر جنرال رازق تېره پنجشنبه تر یوې مهمې غونډې وروسته د چارواکو د تګ پر مهال د والي یوه ساتونکي برید وکړ چې له امله یې نوموړی او د ملي امنیت رییس ووژل شول.

د برید پړه طالبانو پر غاړه اخیستې او ویلي یې دي چې قاتل د دوی نفوذي کس و.

# اردوغان: سعودي چارواکو د خاشقجي وژنه مخکې پلان کړې وه



د ترکیې ولسمشر ویلي، قوي شواهد لري چې په استانبول کې د سعودي عربستان د کونسلګرۍ چارواکو او د سعودي یوه ټیم د سعودي خبریال جمال خاشقجي وژنه څو ورځې وړاندې پلان کړې وه.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، د سعودي چارواکو د خاشقجي د وژلو پلان له سپتمبر میاشتې راهیسې پیل کړی و.

د اردوغان دا خبرې د سعودي د هغه اعلان سره په ټکر کې دي چې څو ورځې وړاندې یې ویلي و چې د سعودي دغه منتقد خبریال په کونسلګرۍ کې د فزیکي شخړې په نتیجه کې سهواً وژل شوی و.

اردوغان تېره ورځ د خپل هېواد د واکمن ګوند غړیو ته په وینا کې وویل چې له دې پېښې سره په تړاو به هېڅ هم پټ پاتې نه شي.

د ترکیې ولسمشر له سعودي عربستانه وغوښتل چې پرېږدي د خاشقجي په قضیه کې نیول شوي اتلس کسان محاکمه شي.

ده زیاته کړه چې د سعودي عربستان د پاچا له خوا پر دنده ګومارل شوی کونسل بې کفایته دی. نوموړي وویل چې چارواکو کونسلګرۍ ته د خاشقجي له ننوتلو وروسته کمرې بندې کړې وې.

ترکیه وایي، که ملګري ملتونه او نورې نړیوالې ادارې د خاشقجي د وژنې په قضیه کې د څېړنې غوښتنه وکړي، دوی به ورسره همکاري وکړي.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاوش اوغلو د اردوغان تر وینا څو ساعته مخکې وویل چې ترکیې تر اوسه د خاشقجي د وژل کېدو د قضیې اړوند معلومات له کوم بل هېواد سره نه دي شریک کړي.

اوغلو له انادولو دولتي خبري اژانس سره د خبرو پر مهال وویل، ترکیه چمتو ده چې په دې تړاو په هر ډول نړیوالو پلټنو کې همکاري وکړي.

بلخوا د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر ویلي چې هېواد یې د خاشقجي د قضیې په اړه بشپړو پلټنو ته ژمن دی چې په دې اړه ټول حقیقتونه راپورته شي.

جبیر ویلي، دغه هېواد ترکیې ته یو پلټونکی ټیم لېږلی چې له ترکانو سره یو ځای کار کوي او په ګډه به د خاشقجي وژنې په اړه شواهد راټول کړي.

نوموړي ویلي، د دې قضیې په تړاو یې تر اوسه اتلس کسان نیولي او شپږ لوړپوړي دولتي چلارواکي یې هم له دندو ګوښه کړي چې دا مهال پلټنې ورڅخه روانې دي.

## د شکایتونو کمېسیون: د ځینو حوزو رایې به باطلې اعلان شي

د افغانستان د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون وایي، دوی ته ځینې جدي شکایتونه ور رسېدلي دي.

د دغه کمېسیون په باور ممکن تر څېړنو او ارزونو وروسته دغه جدي شکایتونه د ځینو ولایتونو د انتخاباتي حوزو د رایو د باطلېدو سبب شي.

د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون مرستیالې حمیرا حقمل ازادي راډیو ته وویل: ««څرنګه چې په قانون کې دغه موارد پېشبیني شوي دي. طبعاً د افغانستان ټاکنې هم له دغسې وضعیت څخه لرې نه دي. داسې موارد شته چې د شکایتونو تر څېړنې او ارزونې وروسته د ځینو حوزو رایې باطلې اعلان او په هغو حوزو کې بیا انتخابات وشي.»

حقمل زیاتوي، د دوی لومړنۍ ارزونې ښیي چې زیاتې انتخاباتي سرغړونې په کابل، لغمان او میدان وردګ ولایتونو کې شوې دي.

دغه کمېسیون وایي، دوشنبې ورځ یې شاوخوا ۱۰۰۰ شکایتونه ثبت کړي او د انتخاباتو په دوو ورځو کې هم ۶۰۰۰ شکایتونه له دوی سره ثبت شوي دي.

د انتخاباتو خپلواک کمېسیون په تېرو انتخاباتو کې سرغړونې تاییدوي، خو فکر کوي چې ښایي ډېرې جدي نه‌وي، د دغه کمېسیون په حواله که چېرې د انتخاباتي شکایتونو له کمېسیون سره درج شوي شکایتونه مستند وي او پر اساس یې د ځینو حوزو رایې باطلې اعلانېږي، دوی به یې تایید کړي.

د دغه کمېسیون ویاند سید حفیظ‌الله هاشمي وایي:

«ځینې سرغړونې دي چې له قانون سره سمې څېړل کېږي. هر څه چې قانون پېشبیني کوي او مستند وي د ټاکنو خپلواک کمېسیون به ورسره مشکل ونه‌لري، په دې شرط چې مستند او معتبر اسناد وي، حقوقي او قانوني اړخ یې هم په پام کې نیول شوی وي.»



## د غزني د ګیرو ولسوالۍ تر سلو ډېر ښوونکي طالبانو برمته کړي

د غزني یو شمېر اوسېدونکي وایي چې وسله والو طالبانو د ګیرو ولسوالۍ ښوونکي او د پوهنې مدیریت ۱۲۵ کارکوونکي برمته کړي دي.

د غزني د ولایتي شورا پخواني غړي نادرخان ګیرووال د لړم په لومړۍ نېټه پژواک خبري اژانس ته ویلي چې طالبانو د ګیرو ولسوالۍ ښوونکي او کارکوونکي ټول برمته کړي دي.

هغه زیاته کړې: «طالبانو په کراتو استادانو ته ویلي وو چې د بانک له لارې معاش وا نه خلي، د معتمد له لارې یې واخلي، خو طالبان هم خپله برخه پکې واخلي، خو دوی دا کار ونه کړ، ځکه یې ټول استادان او کارکوونکي له تېرو دوه ورځو راهیسې برمته کړي دي.»

د نوموړي د معلوماتو له مخې، طالبانو د دې ولسوالۍ د ښوونکو په ګډون ۱۲۵ تنه کارکوونکي برمته کړي او په بېلابېلو ځایونو کې یې ساتي.

همدارنګه د غزني د ولایتي شورا مرستیال امان الله کامراني هم وایي چې له تېرو دوو ورځو راهیسې د ګیرو ولسوالۍ ښوونکي او د پوهنې مدیریت کارکوونکي له طالبانو سره دي.

ده وویل چې د خلاصون لپاره یې هلې ځلې پیل شوې دي.

دغه راز د دې ولسوالۍ اوسېدونکي نعمت الله پژواک ته ویلي: «ټول استادان طالبانو وړي دي، دا دوه ورځې کېږي چې د شاګردانو پر مخ مکتبونه تړل شوي دي.»

د غزني د والي ویاند محمد عارف نوري بیا ویلي چې طالبانو، ښوونکي بېرته را پرېښي دي. نوري زیاته کړې: «۱۶۰ تنه استادان او کارکوونکي یې وړي وو، ورته یې ویلي چې نور به د بانک له لارې معاش نه اخلي او باید د پخوا په څېر معتمد ورته معاش راوړي، نو همدا ده چې بېرته یې را خوشي کړي دي.»

نوري وایي چې طالبان په دغه کار سره غواړي څو د ښوونکو په منځ کې د ځان لپاره خیالي استادان ځای پرځای کړي.

بل لور ته د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته ویلي چې په دې اړه پلټنې کوي او وروسته به رسنیو ته ځواب ورکړي.

د یادونې ده چې په ټول غزني کې نږدې شپږ سوه ښوونځي دي چې څه باندې پنځه سوه زره زده کوونکو ته پکې د شاوخوا اته زره استادانو له لوري تدریس کېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړيني ځانګړني

### ۲۱ هغه ځانګړتياوې چې يو غوره رهبر يې حتماً ولري

ليکوال: جان مکسوېل
ژباړن: ميراحمد ياد

### نهمه ځانګړنه
**سخاوت:**




د دې انسان نوم (اليزابيت الويت) ده. دا د ۱۹۵۰ز لسيزې په اپريل مياشت کې اکوادور ته لاړه چې له کچوا (Quichua) قبيلې سره مرسته وکړي. دا له يوه پلاوي سره لاړه او دی په دې پلاوي کې د (جيمز) په نوم يو بل کس هم و، جيمز له ۱۹۴۷ز کال را پدېخوا له اليزابيت سره پېژندګلوي لرله. دوی دواړو يو ځای د اکوادور ځايي (کچوا) خلکو سره د مرستې لپاره کار کاوه او په همدې وخت کې يې پرېکړه وکړه چې واده سره وکړي.
د دوی د واده دوه کاله کېدل او د (والري) په نوم لور يې د لسو مياشتو وه. په دې وخت کې جيمز اړ شو چې د څلورو نورو تنو په ملتيا د (اوکا) سيمې له ځايي اوسېدونکي سره اړيکه ونيسي، دا خلک په وحشت او تاوتريخوالي کې مشهور وو. دوی په ۱۶۰۰ لسيزه کې ځينې مبلغين وژلي او له هغه وروسته چې به هر چا د ورنږدې کېدو هڅه کوله، دوی به بريد پرې کاوه. دوی دومره ترخه خلک وو چې ان د اکوادور نورو ځايي خلکو او قبايلو به هم له دوی نه ځان ساته.
کله چې جيمز او ملګري يې د اړيکو نيولو لپاره چمتو شول، نو اليزابيت پوهېده چې دا پنځه واړه همکاران خپل سرونه تباه کوي، خو هغوی خپله پرېکړه کړې وه. دغو دواړو هم ځان دې ماموريت ته وقف کړی و. څو اونۍ وروسته يوه وړه الوتکه د (اوکايي) په کلي تېره شوه او ځينې ډالۍ يې ور وغورځولې، دوی ان خپل انځورونه هم له الوتکې شيندلي وو چې کليوال يې له څېرو سره بلد شي.
څو اونۍ وروسته جيمز او د ده همکاران د کوراري سيند په څنډه کې ښکته شول او خيمه يې ووهله. هلته يې د اوکايي د سيمې له درې تنو، يوه سړي او دوه ښځو سره اړيکه ونيوله، دوی لږ نرم او ملګري ورته ښکارېدل. څو ورځې وروسته يې له ځينو نورو سره هم اړيکه ونيوله. دغو خلکو خپلو مېرمنو سره په مخابره اړيکه ونيوله او ډاډ يې ورکړ چې د دوستۍ تار تر يوه ځايه غځېدلی او د قبيلې له خلکو سره په اړيکو کې پرمختګ هم شوی دی.
خو څو ورځې وروسته د ملګرو دغه استازي بېرته خپلې خېمې يا کمپ ته راستانه نه شول، دقيقې او ساعتونه تېر شول، خبره ورځې ته ورسېده، اليزابيت او د نورو همکارانو مېرمنې اندېښمنې وې.
پلټونکې ډله په دوی پسې ووتله او په مخابره کې يې بد خبر ورکړ، دوی په سيند کې د يوه سپين نژادي سړي مړی پيدا کړی و. وروسته نور مړي هم پيدا شول او د ورغلې ډلې د يوه يوه تن مړي وپېژندل شول، دا خلک د اوکايي قبيلې له تېغ او نېزو تېر شوي وو.
که په دې حالاتو کې د اليزابيت پر ځای بل څوک وای، نو بېرته به خپل کور ته راستنه شوې وای. خو اليزابيت نه يوازې د امريکا آرام او اسوده ژوند پرېښی و، بلکې په دې لاره کې يې مېړه هم ووژل شو. اليزابيت لوی او سخې زړه درلود، دومره غمجن زيان يې ليدلی و، د ژوند ملګری يې بايللی و، لور يې يتيمه شوې وه، خو بيا يې هم هڅه کوله چې د اکوادور له خلکو سره مرسته وکړي، دا بېرته د هماغه (کچوا) قبيلې په منځ کې پاتې شوه او له هغوی سره به يې مرستې کولې.
ورپسې پېښه تر دې هم په زړه پورې ده. وروسته بيا د دوی ډلې هڅه کوله چې د اوکايي د يوه کلي له اوسېدونکو سره اړيکه ونيسي، څو کاله خوارې يې وکړه او بلاخره برياليې شول. اليزابيت اليوت دې کلي ته لاړه، څه يې کول؟ غچ يې اخيست؟ نه! هلته د دې لپاره لاړه چې د هغه کلي له خلکو سره مرسته وکړي او خدمت يې وکړي. دا دوه کاله په اوکايي قبيلې کې واوسېده، هلته يې د سولې او ملګرۍ پيغام يووړ، د هغې سيمې خلکو يې پيغام ومانه، په دې کې د هغې اوه کسيزې ډلې دوه غړي هم وو، چې د اليزابيت مېړه يې وژلی و.

**دې ته تم شئ**

د رهبرۍ لپاره تر ټولو ښه ښېګڼه، له نورو سره مرسته او سخاوت دی. سخاوت او خدمت د يوې ورځې خبره نه ده، دا د رهبر د ژوند ټول اړخونه رانغاړي، له وخته نيولې تر شتمنۍ، وړتيا، قوت او نورو... کوم رهبران چې پيروان لري، هغوی هر څه يوازې د ځان لپاره نه زېرمه کوي، بلکې د دې لپاره يې زېرمه کوي چې پر نورو يې ووېشي، په ځان کې د سخاوت ښېګڼې پيدا کړې او ويې روزئ، څنګه؟ داسې:

**۱) څه چې لرئ، شکر پرې وکړئ**


که څوک په خپل حال شکر ونه باسي، سخاوت هم نشي کولای. سخاوت له شکر يا رضايته سرچينه اخلي او رضايت په دې نه ترلاسه کېږي، چې انسان دې هر څه ځان ته راټول کړي. لوی شتمن جان راکفلر ويلي وو چې: (ما ميليونونه پيسې وګټلې، خو د زړه رضايت او سکون يې را نکړ.) که په لږ راضي نشئ او شکر ونه کړئ، په ډېرو به هم راضي نه شئ او که په لږو کې مو سخاوت ونه کړ، که ناڅاپي شتمن شئ، نو په ډېرو کې به هم سخاوت ونه کړئ.

**دوام لري...**

# You Can ACHIEVE MORE

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب (You Can ACHIEVE MORE) د شيو کهرا يو بل په زړه پورې اثر دی چې په دې وروستيو کې چاپ او بازار ته راوتلی دی.
کتاب ۲٦۹ مخونه لري او د پيليزې ترڅنګ ۲۳ څپرکي لري. په کتاب کې د مثبت فکر پر جوړولو او ګټو هر اړخيز بحث شوی دی. نوموړي د يوه خوشاله او هدفمند ژوند لپاره د کړنلارو په جوړښت هم بحث کړی دی. د کتاب د هر څپرکي په پای کې عملي تمرين هم راغلی دی او د دغه کتاب د طرحو په عملي کولو کې له لوستونکي سره د مطلوبې پايلې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.
د نوموړي ليکوال لومړنی اثر «ته ګټونکی يې» هغه کتاب و چې د مثبت فکر، خوشاله ژوند او فردي برياليتوب په اړه بحث يې د ميليونونو لوستونکو پاملرنه را خپله کړه. دا په انګريزي ليکل شوی اثر د ليکوال وروستی اثر دی او د کتاب په ترتيب کې د محتوا او شکل له لحاظه هم نوښت شوی دی. د محتوا له لحاظه د کتاب ادبي زېرمه بډايه ترتيب شوې ده او هم د کتاب ترتيب داسې شوی چې کره خبرې او هغه لارې چې عملي کول يې اړين دي د پام وړ کمپوز او ترتيب خپل کړی دی.
د دغه کتاب په لوستلو سره به لوستونکي دا وړتيا ومومي چې د مثبت فکر په قدرت سره ډېر څه او په متفاوته بڼه ترسره کړي. د شتمنۍ ګټلو او ګټورو کارولو له لارې به يې زده کړې وکړي، د خپلې روغتيا ساتنه به جدي ونيسي، د اړيکو پالل به اغېزناک کړي، په دې سره به د مثبت فکر په مټ بريالی او خوشاله ژوند ولري.
د دغه کتاب او نورو تازه را رسېدلو کتابونو د ترلاسه کولو لپاره مينه وال کولای شي له اکسوس کتابپلورنځي يې په مناسبه بيه ترلاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Strategic Reading 1 second Edition | Jack C. richards | ۱۸۰؋ |
| ۲ | Strategic Reading 2 second Edition | | ۲۲۰؋ |
| ۳ | Strategic Reading 3 second Edition | | ۲۲۰؋ |
| ٤ | اعتماد هوشمندانه | استفان کاوی | ۲۵۰؋ |
| ۵ | بازان ماتېږي (جاسوسي ناول) | امير عشيري | ۲۰۰؋ |
| ٦ | حج (يونليک) | فضل الله رشتين | ۸۰؋ |
| ۷ | د اورپا ننداره(يونليک) | | ۷۰؋ |
| ۸ | Longman Academic Writing Series 1 | Linda Butler | ۲۷۰؋ |
| ۹ | Longman Academic Writing Series 2 | Ann Hogue | ۲۸۰؋ |
| ۱۰ | Longman Academic Writing Series 3 | Alice oshima. Ann hogue | ۳۸۰؋ |
| ۱۱ | Longman Academic Writing Series 4 | | ۳۸۰؋ |
| ۱۲ | Longman Academic Writing Series 5 | Alan Meyers | ۳۵۰؋ |
| ۱۳ | RONALDO The obsession for perfection | Luca Caioli | ۲۰۰؋ |
| ۱٤ | ګيتانجلي | ټاګور | ۱۰۰؋ |
| ۱۵ | د رياض تسنيم کليات | چاپ زيار:ميراحمد ياد | ۲۵۰؋ |
| ۱٦ | روش تحقيق در علوم سياسي و روابط بين الملل | دکتر محمود سريع القلم | ۸۰؋ |
| ۱۷ | افکار و انگيزه های روابط بين الملل | نور ولی خان نور | ۱۵۰؋ |
| ۱۸ | پښتانه د تاريخ په رڼا کې | سيد بهادرشاه کاکاخيل | ٦۰۰؋ |
| ۱۹ | تاريخ مرصع | افضل خان | ۸۰۰؋ |
| ۲۰ | ته نوښتګربې! | يوکام کيونګ | ۱۲۰؋ |
| ۲۱ | د پښتنو تاريخ | قاضی عطا الله خان | ۷۰۰؋ |
| ۲۲ | Key Words For Fluency Intermediate | George woolard | ۱۵۰؋ |
| ۲۳ | Key Words for Fluency pre-intermediate | | ۱۲۰؋ |
| ۲٤ | Key Words For Fluency Upper Inter | | ۱٤۰؋ |
| ۲۵ | You Can ACHIEVE more | Shiv khera | ۲۲۰؋ |
| ۲٦ | د ماشوم په روزنه کې د مور ونډه | معصومه کمالي | ۸۰؋ |
| ۲۷ | د هوسا ژوند ۳۰رازونه | حميده امين الکوزی | ۸۰؋ |
| ۲۸ | پلټونکې خبريالي | پوهيالی احمد ضيا الهام | ۸۰؋ |
| ۲۹ | جامعه شناسی احزاب سياسي | دکتر نقيب زاده | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | محيط زيست | پوهندوی نثار احمد کوهستانی | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٦۵ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ۵۷۲ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:30 |
| کابل - کندهار | 16:00 |
| کابل - ارومچي | 09:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د ژوندانه په لګښتونو کې د سپما لارې چارې

ژباړه: نور احمد افضلي

ډېرې خلک فکر کوي چې لګښت نه کول سپما ده؛ خو داسې نه ده. سپما لګښت نه کول نه دي؛ بلکې پر ځای او سم لګښت کول دي. د دې کار لپاره بېلابېلې طریقې دي چې ډېرې ساده او هم له ډېرې سختۍ خلاصې دي، خو د همدې اسانه او ساده طریقو لپاره به هم یو لړ مصارف کوی.

د دې لپاره چې وکولای شو په خپلو ورځنیو لګښتونو کې سپما وکړو، داسې لارې شته چې موږ یې فکر لا نه کوو، ساده خو اغېزناکې او ګټورې دي.

**۱- د خپلو اخیستونکو توکو لېست چمتو کړئ!**

د سوپرمارکېټونو او پلورنځیو شان او شوکت معمولاً هر انسان خپل ځان ته جذبوي. له دې ځایونو څخه د سودا اخیستلو وسوسه زموږ د ورځنیو لګښتونو د ډېرېدو یو له مهمو سببونو څخه دی. که غواړې چې په یادو مارکېټونو کې مو لږ پیسې ولګېږي، وړاندې تر دې چې یادو مرکزونو او پلورنځیو ته ولاړ شی، د خپلو اخیستونکو توکو نوملړ چمتو کړی. هو، وسواسي کېږی مه!

**۲- د اړتیا وړ پیسې درسره ولرئ!**

له کوره د وتلو پر مهال مو باید په یاد وي چې یوازې باید د اړتیا وړ پیسې درسره وي، هېڅکله اضافي پیسې له ځان سره مه وړئ. دا اضافي پیسې شونې دي چې درڅخه ورکې او یا هم غلا شي او یا هم کېدای شي چې په اسانۍ درڅخه خرڅ شي.

**۳-جامې د هر موسم په پای کې رانیسئ!**

د کالیو رانیولو او په لګښت کې د سپما کولو لپاره تر هر څه وړاندې باید وپوهېږئ چې د هر موسم په پای کې کالي را ونیسئ، ځکه د موسم په پای کې د نوي موسم لپاره معمولاً د پخوانیو او مخکینیو جامو بیې راټیټېږي او په تخفیف یې درکوي.

**۴- له اصلي او باکیفیتو جنسونو څخه استفاده وکړئ!**

همېشه د دې لپاره چې د پوښاک په رانیولو کې مو سپما کړې وي، باید د باکیفیتو او اصلي جنسونو څخه ګټه واخلئ، څو لږ تر لږه ستاسې د څو کلونو لپاره د استفادې وړ وي. که یوازې د ارزانه بیې په سبب بې کیفیته کالي واخلی، تر لنډ وخت وروسته اړ یاست چې بیاځلي همدا جنس وپېری.

**۵- د ښایسته او لوکسو جنسونو پېر را کم کړئ!**

په ورځني ژوند کې ځینې وخت شونې دي چې ښایسته او لوکسې جامې ډېرې وسواس اچوونکې وي، البته په ژوند کې بدلون خورا مهم دی، خو تر دې چې زیات څه مهم دي؛ هغه ستاسې بودجه ده. امکان لري چې ښایسته جامې او کالي ستاسې ژوند ته ډېر ښایست او رونق ورکړي، خو شاید همدا پیسې مو د ژوند په بل ډېر مهم ځای کې درد دوا کړي. ځکه نو هڅه وکړئ چې د دې شیزونو پېر راکم کړی.

**٦- د امکان تر بریده د باندې له خوراکه ډډه وکړئ!**

تاسې به هم نن سبا د فسټ فوډ خوراکونو په اړه خبرېږی چې د روغتیا لپاره څومره زیان لري، خو د دغو خوراکونو له زیانونو یو هم ناخبرې پیسې دي چې خرڅوی یې. که غواړی چې له دې ناخبره مصرف څخه ځانونه خلاص کړی او په خپلو لګښتونو کې مو سپما وکړی؛ نو ښه لاره یې په کور کې اشپزي کول او له کورنیو پاخه شوو خوړو خوند اخیستل دي.

**۷- خپل ورځني جاري لګښتونه مو جدي یادابنت کړئ!**

د راتلونکې میاشتې ټول لګښتونه مو یادابنت کړئ، له لویو نیولې تر کوچنیو ټول ورځني لګښتونه. غوره خو دا ده چې د دې کار لپاره یوه د یادابنت کتابچه ځانګړې کړی، څو وکولای شی د لګښتونو جریان مو پرتله او بررسي کړی. د لګښتونو او مصارفو یادښتول، د سپما او لګښتونو د کنټرول پر لور لومړنی ګام دی.

**۸- د توکو د خرابېدو یا وخت تېرېدو تاریخ وګورئ!**

دا دومره سخت کار هم نه دی. د حیرانتیا خبره خو دا ده چې ځینې کسان پرته له دې چې د توکو د وخت تېر تاریخ وګوري، بېلابېل خواړه لکه لبنیات، غوښه، چرګ، هګۍ او... پېري. د توکو د وخت تېر تاریخ ته په کتو او ویلو سره په یوه ټک دوه ښې ولی، یوه دا چې پیسې به مو نه وي تلف کړې او بل به مو د ځان روغتیا او سلامتیا ته پام کړی وي.




**۹- د تداوۍ په لګښتونو کې مو سپما وکړئ!**

د تداوۍ لګښتونو کې ډېری کسان سپما نه شي کولای، ځکه چې لګښتونه له وړاندې مالوم او مشخص دي چې نه پکې تخفیف او نه پکې نور څه شته. یوازینی کار چې ستاسې په دې لګښتونو کې سپما راوستلی شي، هغه دا دی چې د ژمي په وخت کې د ګرمو کالو په اغوستلو سره هم د انرژۍ په مصرف کې سپما کوی او هم به مو د تداوۍ په لګښتونو کې سپما کړې وي.

**۱۰- پاتې پیسې مو مه پرېږدئ!**

کله چې پلورونکی ستاسې پاتې پیسې بېرته درکوي، حتماً هغه واخلی. زموږ ډېری کسان خپلې پاتې پیسې په خاصه بیا هغه وخت چې میدوي یې، نه را اخلي. د بازار موندنې تبلیغاتو د موسسې له لوري د ترسره شوي تحقیق له مخې یوازې ۲۱ سلنه وګړي خپلې پاتې پیسې له پلورونکي غواړي او اخلي.

**۱۱- له مخکې د تابیا نیولو پرته، توکي رانیول پرېږدئ!**

لوی سوداګریز مارکېټونه چې بېلابېل محصولات پېرودونکو ته وړاندې کوي، د سپما لپاره خورا ښه او مناسب ځایونه دي. رامسي چې په دې اړه د خورا ښه نظر خاوند دی، داسې وایي: «سره له دې چې دا پلورنځي او مارکېټونه ډېر زیات امتیازات لري، خو ستونزه دلته ده کله چې د مخکې پلان شوي او مشخص څیز په تلاش کې یې، ناخبره دې سترګې پر ځینو غیر ضروري محصولاتو ښېلي او څو چې مخ راګرځوې، بیا دې څو له دوی څخه د سودا کڅوړې ته لوېدلې وي او د پیسو تحویلولو خوا ته ورځئ.» رامسي سپارښتنه کوي: «له کوره د سودا په نیت تر وتلو وړاندې د خپلو ضروري توکو لېست له ځان سره ولری.» نومورې وایي: «زه خپله له دې اسلوبه کار اخلم او هېڅکله تر خپل تیار کړي لېست اضافي څیزونه نه پېرم.»

**۱۲- د کتاب رانیولو پر ځای هغه له کتابتونه په امانت واخلئ!**

هر کله چې شونې وي، د کتاب رانیولو پر ځای هغه له کتابتونه په امانت واخلئ. د کتابتون غړیتوب لږل یا خو لګښت نه لري او یا ډېر کم لګښت لري. د دغه کار یو بل ښه والی دا د چې کتابتونونه هم د مطالعې او درس ویلو لپاره ښه ځای دی او هم رنګارنګ کتابونه هلته زیات دي. که د کتاب رانیولو ته اړ یاست، حتمن داسې کتاب غوره کړی چې منځپانګه یې ستاسو له موخې سره متناسبه وي، نه دا چې پیسې پرې ورکړی او ګټه ترې و نه کړی.

**۱۳- ګران یې مه رانیسئ!**

که ګران بیه توکي رانیول مو غوښتل، حتمن یې په څو پلورنځیو کې بیه کړئ. په دې ترتیب څوک نه شي کولای چې ستاسې په سترګو کې خاورې در واچوي. که د توکو له پېر وړاندې په خاصه د ګران بیه هغو ښه پلټنه وکړی، هم به د خپلې خوښې وړ توکي وپېری او هم به مو اضافي پیسې نه وي مصرف کړې.

**۱۴- له عمومي ټرانسپورټه استفاده وکړئ!**

د وګړو د ژوند لپاره په سپما کې له عمومي ترانسپورټه استفاده کول یوه بله لار ده. د عمومي تګ راتګ له اسانتیاوو استفاده کول نه یوازې د هوا د ککړتیا د لږولو او ګڼې ګوڼې له کمولو سره مرسته کوي، بلکې له دې سره سره په ملي بسونو او مېټرو کې له عمومي ترانسپورټه د شخصي موټرونو یا موټر سایکلونو په پرتله استفاده کول ډېر کم مصرفه دي.

**۱۵- د خپلو وسایطو د ساتنې او احتمالي ترمیمونو لپاره منظم پلان ولرئ!**

د خپلو وسایطو رنګ بدلولو، د لاسټیکونو د تنظیم او په شخصي وسایطو پورې اړوندو نورو کارونو ته مو همېشه باید پام وي. که ناوخته اقدام وکړی او شخصي وسایط مو پر خپل حال پرېږدی، بیا به اړ یاست چې د ساتنې او جوړونې لپاره یې زیاتې پیسې ولګوی.

**۱٦- له برېښنایي توکو څخه په ګټه اخیستلو کې له دقته کار واخلئ!**

د برېښنا لګښت کمولو ساده او اسانه لار، هغه هم د نن او سبا په بندو بازارونو کې دا ده چې کله له هغوی ګټه نه اخلئ؛ له برقه یې وکاږئ. تر لمر صفا خبره ده، که چېرې یوازې د دې پر ځای چې ټلوېزیون خاموش کړی، هغه له برق څخه وکاږی، ستاسې د برېښنا په لګښت کې کمښت راځي. البته پر نورو سرونو هم دې ته ورته اضافي مبلغ لګولو ته دقت وکړئ.

## د کورنیو چارو وزارت: د ټاکنو په ورځو کې د طالبانو ۱۷۲۵ بریدونه شنډ شول

د کورنیو چارو وزارت وایي چې د ولسي جرګې د ټاکنو په ورځو کې یې د ۱۷۲۵ بریدونو مخه نیولې ده.

که څه هم د ولسي جرګې په ټاکنو کې له شته امنیتي ګواښونو سره سره بیا هم د خلکو پراخ ګډون په ملي او نړیواله کچه وستایل شو، خو دا ټاکنې د لسګونو افغانانو د سر په بیه هم پرېوتې.

د کورنیو چارو وزارت وایي، وسله والو مخالفینو د ټاکنو په ورځو کې ۱۸۱۳ بریدونه پلان کړي وو چې یوازې ۱۹۳ یې عملي کړي او د نورو مخه یې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا ونیول شوه.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نجیب دانش وایي: «په ټوله کې دښمن ۱۹۳ پېښې ترسره کړې چې ۸۹ یې په انتخاباتي مرکزونو او محلونو وې او پاتې نورې یې په امنیتي ځواکونو وشوې، په ټوله کې چې وسله والو مخالفینو کومې حملې پلان کړې وې، شمېر یې ۱۸۱۳ ته رسېده چې یوازې دوی د ۸۹ پېښو په کولو وتوانېدل او د پاتې ۱۷۲۵ پېښو مخه ونیول شوه.»



دانش وویل چې په دغو پېښو کې ۵۲ امنیتي منسوبین او ولسي وګړي وژل شوي او تر ۱۲۵ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د ټاکنو په دوو ورځو کې د ۴۰۷ بریدونو ادعا کړې او ویلي یې دي چې په دې بریدونو کې یې لسګونو افغان امنیتي سرتېرو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ازادي راډیو ته په یو لیکلي پیغام کې ویلي چې دوی تر ډېره هڅه کړې چې د ملکي وګړو ژوند ته پام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د روانې اونۍ د شنبې په ورځ چې د تلې ۲۸مه کېده له کندهار او غزني پرته په ټول افغانستان کې د ولسي جرګې ټاکنې وشوې.

که څه هم په دې ورځ د ځینو تخنیکي او امنیتي ستونزو له امله په بېلابېلو ولایتونو کې د رایې اچونې یو شمېر مرکزونه بند پاتې شول، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون په دې مرکزونو کې د یوې بلې ورځې لپاره رایه اچونې اعلان وکړ.

د کورنیو چارو وزارت وایي چې د ټاکنو په دویمه ورځ د امنیتي ګواښونو له امله هېڅ مرکز تړلی نه دی پاتې شوی، خو د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مسوولینو وړمه ورځ وویل چې د ۴۰۱ بندو مرکزونو له ډلې په ۲۵۳ مرکزونو کې د ټاکنو په دویمه ورځ رایه اچونه وشوه او پاتې نور د امنیتي ګواښونو له امله تړلي پاتې شول.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ - ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لړم دویمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲٤مه | دویم کال | ۲۷۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۷ | ۲۸ | ۲٤ | ۲۹ | ۲٤ |
| ۷ | ۱۲ | ۱۲ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۳ | لمر ختل ۰٦:۰٦ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۳:۳۰ | ماښام ۰۵:۰۹ | ماخوستن ۰٦:۳۳

## نړۍ





## عمران خان: پاکستان د پخوانیو پورونو د خلاصولو لپاره نویو پورونو ته اړتیا لري



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، هېواد یې د پخوانیو پورونو د خلاصولو لپاره د نویو پورونو اخیستلو ته اړ دی.
عمران خان چې له سعودي د پور اخیستلو لپاره دغه هېواد ته سفر کړی، یوه جوړ شوي درې ورځني کنفرانس ته ویلي چې راتلونکې درې تر شپږو میاشتې یې د هېواد لپاره سختې دي.
خبرونکي وايي، په دې وروستیو کې پاکستان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ شوی؛ ان تر دې چې د پخوانیو پورونو د سود ورکولو جوگه هم نه دی.
عمران خان چې اقتدار ته له رسېدو وړاندې یې د بهرنیو پورونو له اخیستو سره مخالفت ښود، اوس غواړي چې د پیسو له نړیوال صندوق، سعودي عربستان او ځینو نورو هېوادونو څخه پورونه واخلي.
عمران خان ویلي، د هېواد د ناوړه اقتصادي وضعیت لامل یې له ترهگرۍ سره جگړه وه چې له کبله یې لویې کمپنۍ په دغه هېواد کې له پانگونې نهیلې شوې.
لومړي وزیر عمران خان ویلي، په ټول توان سره هڅه کوي چې په پاکستان کې کاري زمینې ډېرې کړي او دغه راز پانگه والو ته د کاروبار غوره چاپېریال برابر کړي.
هغه ویلي، د حکومت یې ایله درې میاشتې پوره شوې دي او ډېر ژر به د خپل هېواد د عوایدو لوړول پیل کړي.
عمران خان په پاکستان کې د چین پانگونه او په ځانگړې ډول سي پېک پروژه مهمه وبلله او ویې ویل چې د دې پروژې د پیلتابه له کبله یې د هېواد ستراتېژیک ارزښت لوړ شوی دی.
هغه ویلي چې چین د پاکستان لپاره یو ستر بازار دی او سي پېک لپاره د گوادر په څېر اقتصادي سیمو ته پراختیا ورکول کېږي.

## روسیه پر اوکرایني چارواکو او کمپنیو بندیزونه لگوي




د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین یو فرمان لاسلیک کړی چې پر بنسټ یې د ځینو اوکرایني شرکتونو او اتباعو پر وړاندې ځانگړي اقتصادي اقدامات کېږي.
د فرمان له مخې، دغه اقدامات د روسي اتباعو او کمپنیو پر وړاندې د اوکراین د «غیر دوستانه کړنو» په ځواب کې کېږي.
د دغه لاسلیک شوي فرمان پر بنسټ چې د کرملین په وېبپاڼه کې خپور شوی، پوتین حکومت ته سپارښتنه کړې چې د اوکراین د هغو شرکتونو او اشخاصو یو لېست برابر کړي چې شایي اقتصادي بندیزونه ور باندې ولگول شي.
په فرمان کې حکومت ته امر شوی چې دغه بندیزونه مشخص کړي. په فرمان کې تر هغه مهاله د بندیزونو د غځولو امر شوی چې اوکراین پر روسي اتباعو او کمپنیو لگولي بندیزونه لرې کړې نه وي.
د امریکا د متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې په څېر کیف هم پر روسي سوداگرو، کمپنیو او نورو اشخاصو بندیزونه لگولي دي.
دغه بندیزونه په ۲۰۱٤ز کال کې د اوکراین د کریمیا ټاپو وزمې د الحاق او د اوکراین په ختیځ کې د وسله والو بېلتونپالو د ملاتړ له کبله پر مسکو لگول شوي دي.
پوتین داسې مهال پر اوکراین د بندیزونو لگولو فرمان صادر کړی چې د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن له روسي چارواکو سره د خبرو لپاره مسکو ته تللی دی. د مسکو او واشنگټن اړیکې ترینگلې دي چې یو لامل یې هم له اوکراین سره د روسیې چلند ښودل کېږي.


## له بایومېټریک پرته کارېدلې رایې هم شمېرل کېږي



د ټاکنو خپلواکو کمېسیون وايي، د تېرې شنبې ورځې په ټاکنو کې به هغه رایې هم حسابېږي چې له بایومېټریک پرته کارول شوې دي.
د کمېسیون په وینا، یوه ځانگړې کمېټه به د دغو رایو تر منځ سمې او ناسمې سره بېلې کړي او له هغه وروسته به سمې رایې وشمېرل شي.
وړمه ورځ یو شمېر سیاسي گوندونو له بایومېټریک پرته د کارول شویو رایو د باطلېدو غوښتنه وکړه، خو د ټاکنو کمېسیون چارواکي وايي، یوازې اته سلنه مرکزونو کې بایومېټریک وسیله نه ده کارېدلې، او د دې مرکزونو رایه ورکوونکي حق لري چې رایه یې حساب شي.
د یاد کمېسیون مرستیال وياند ذبیح سادات وايي، دوی داسې یو میکانېزم کاروي چې سمې رایې له ناسمو بېلې کړي او د دې لپاره یې یوه کمېټه گومارلې ده.
د سادات په خبره، دا کمېټه به په دې اته سلنه مرکزونو کې د رایې ورکوونکو له مخکنۍ ثبت شوي نوملړ سره د رایې اچوونکو نومونه پرتله کړي.
د ده په وینا، که چېرې د رایه ورکوونکي نوم په دواړو لېستونو کې موجود وي نو رایه یې سمه ده او حسابېږي به.
د ټاکنو پر ورځ د بایومېټریک د یو شمېر وسایلو خرابوالی، یا یې د مسوولو کسانو نه حاضرېدل او یا هم په مرکز کې د بایومېټریک الې نشتوالی د دې لامل شول چې ځینې کسان له دې وسیلې پرته رایه ورکړي.
د ټاکنو کمېسیون چارواکي وايي، سر له ننه به ډېټابېس فعالوي چې د ورکړل شویو رایو اړوند ټول جزیات پکې ځای په ځای کړي.
دغه کمېسیون وايي، د کابل ښار او نورو ولایتونو د رایې ورکونې له مرکزونو څخه ولایتي مرکزونو ته د رایو د صندوقونو د لېږد چارې یې گړندۍ کړې دي.

## ژوند

## د سنځلو روغتیایي گټې



دا چې د سنځلې ونه له هر ډول محیط سره جوړ جاړی کولی شي، نو د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې پیدا کېږي او کرل کېږي هم. د سنځلې ټولې برخې؛ هغه که رېښې وي، پوستکی وي او یا هم خپله مېوه گټورې بلل شوې دي.
د سنځلو خوړل د معدې او ینې د پیاوړي کېدو لامل کېږي. سنځلې په خپل ترکیب کې تر ټولو قوي انټي اکسیډان لري چې د ناروغیو پر وړاندې د بدن مقاومت لوړوي.
سنځلې د التهاب ضد ځانگړنه لري او کم کالري مېوه بلل کېږي. گټه یې د هغو کسانو لپاره ډېره ده چې غواړي خپل وزن کم کړي. پر دې ټولو سربېره سنځلې نورې ډېرې گټې هم لري چې ځینو ته یې په لاندې ډول اشاره کوو:
سنځلې د تبې او درد ضد خاصیت لري
سنځلې زړه قوي کوي
سنځلې سر درد له منځه وړي
سنځلې اسهال کابو کوي او د خونریزۍ مخه نیسي
سنځلې د مفاصلو درد او د پوستکي خارښ له منځه وړي
سنځلې د پوست د ښکلا لپاره ښه نسخه ده
سنځلې د افغانستان په مشهورو وچو مېوو کې راځي چې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې موندل کېږي، خو د لوگر ولایت سنځلې بیا خورا مشهورې دي.

## ضدي ماشومان څه ډول آرام کړو؟



مور او پلار تل د خپلو ماشومانو له ضد څخه کړېږي. که په دغه حساس وخت کې مور او پلار لږ څه بې غورې هم وکړي، کېدای شي د ماشوم پر راتلونکې منفي اغېز وکړي، خو که یو څه له حوصلې کار واخلي او هغه لارې چارې وکاروي چې ماشوم ته یې ښه روحیه ورکړي، هم به یې ماشوم ښه روزلی وي او هم به دوی نه وي په عذاب. له دې ستونزو سره مبارزه اسانه ده.
لومړی ټکی دا دی چې له داسې بوختوونکو کارونو څخه گټه واخلي چې وکولای شي هم خپل ضدي ماشوم ارام کړي او هم یې د یوه وخت لپاره درسره همکار کړي. فرض کړی د خپلو ماشومانو غاښونه بورس کوی، خو ماشوم مو درته خپله خوله نه وازوي، د نوکانو اخیستلو پر وخت درته لاس یا پښې په سم ډول نه نیسي، څه باید وکړئ؟
ماشوم مو وخندوئ، د ماشوم خندول د مسواک وهلو او یا هم د درملو خوړو ته تر ټولو غوره لاره ده. کله چې ماشوم خاندي، نه یوازې دا چې فکر یې بل ځای نه وي مصروف، بلکې خوله یې هم وازه وي.
ماشوم ته مو د خپل کوچنیوالي په اړه خبرې وکړئ. د دې لپاره چې ماشوم مصروف وساتی، تر ټولو غوره لاره یې دا ده چې ماشوم ته مو کیسې او داستانونه ولولئ.